پياوړی کس - په غېږ نيولو کې - چپه کوونکی ندی، بلکې پياوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «پياوړی کس - په غېږ نيولو کې - چپه کوونکی ندی، بلکې پياوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې اصلي ځواک د بدن ځواکمني نده او نه هغه ځواکمن دی چې نور قوي کسان راچپه کړي، بلکې غښتلی او پياوړی - انسان - هغه څوک دی چې د خپل نفس په وړاندې مبارزه وکړي او د سختې غصې په وخت کې يې کنټرول کړي، ځکه چې دا د دې په خپل ځان د پوره ځواک او په شيطان د غالبېدو دليل دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5351